مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکوال: سراج الحق ببرک زی خدران ۲۰۲۳/۰۵/۲۱

اسیا کې لویه لوبه د افغانستان د غمیزې لوبه

افغانستان کې د لویې لوبې پای:
په منځنۍ اسیا کې د نړۍ د دوو سترو امپراتوریو جګړو او ستراتېژیکو سیالیو له امله افغانستان ته د لویې لوبې خونړۍ میراث پاتې شوې دی. د لویې لوبې اصطلاح د برتانیا ویکټوریا دورې او تزاري روسیې ترمنځ د روانو استعماري تاوتریخولي، د کولونیالیستي سیاستونو او د جغرافیایي، تاریخي پېښو موخې توضیح او تشریح کوي. افغانستان اټکل د دوو سو کلونو راهیسې د نړیوال سیاست په مرکز بدل شوې دی. افغانستان د خپل جیوپولټیکي موقعیت له امله د نړۍ د سیاسي زلزلو په مرکز بدل شوې دی. د روسیې او بریتانیا د ستراتیژیکو سیالیو او استعماري لویې لوبې له امله افغانستان د دووسو کلونو راهیسې د نړیوال سیاست د شطرنج لوبې ډګر ګرځیدلې دی. د نړیوال سیاست د شطرنج په ستره تخته کې افغانستان یو نه اشغالیدونکی هیواد پېژندل شوې دی.
د نولسمۍ پیړۍ راهیسې په منځنۍ اسیا کې د نړۍ تر ټولو ستر سمندري ځواک بریتانیا او د نړۍ تر ټولو ستر ځمکنۍ ځواک روسي یرغلګرو امپراتوریو ترمنځ د نفوذي او اشغالي سیمو د کنټرول لپاره یوه ستره د سیالیو لوبه پیل شوه. دواړو استعماري امپراتوریو په مرکزي او سویلي اسیا کې د ډېرو سیمو تر لاسه کولو او تعریفولو لپاره له پوځي مداخلو، استخباراتي او ډیپلوماتیکو خبرو اترو څخه کار اخیستلې دی.
په 1881 کال په ژمي کې وتلي نامتو روسي لیکوال فیودور دوستویفسکي د یورایشیا جیوپولټیک حیثیت په اړه یوه لیکنه لیکلې، کله چې روسانو تر ترکمنستان پورې ټولې سیمې ونیولې. لیکوال فیودور دوستویفسکي د یوې ساده پوښتنې په اړه یوه مهمه لیکنه تر دې سرلیک لاندې ولیکله،, اسیا زموږ لپاره څه مانا لري.؟ د دې پوښتنې ځواب یې هم په ساده توګه لیکلې دی،، په یوه نړۍ کې چې اروپایان روسانو ته د بربري وحشیانو په سترګه ګوري، روسان باید اسیا ته د بادارانو په توګه ولاړ شي,,. د روسانو دغه مفکره له دې ځایه سرچینه اخلي، چې روسیه نه د اروپا او نه د اسیا براعظمونو پورې تړاو لري. د تیرو څولسېزو راهیسې دغه فکر په روسي تفکر او روسي نړۍ کې یو واکمن فکر ګرځیدلې دی. له بلې خوا د برتانوي نړیوال ښکېلاک له لوري د نورو سیمو نیول مخ په پراخیدو وې. انګرېزانو د برتانوي هند شمالي پوله د افغانستان په زړه کې په زور تحمیل کړه. د افغانانو او انګریزانو ترمنځ د څو لسېزو جګړې او د ډیورنډ تحمیلي لعنتي کرښې کښل د لویې لوبې مستقیمې پایلې دي.
د شلمې پیړۍ په پیل کې د کاسپین سمندرګۍ له ساحل څخه تر همالیا غرونو لمنو پورې ډېر خپلواک دولتونه او سلطنتونه ونړوال شول او نوي تحت الحمایه دولتونه او هیوادونه رامنځته شول، دغو تحت الحمایه دولتونو د دواړو استعماري امپراتوریو محافظتي، امنیتي او حایلي بېلونکي سیمې جوړولې. اسیا کې لویه لوبه یا د لویې لوبې کیسه اصلاً د انګرېزي او روسي امپراتوریو ترمنځ د ستراتېژیکو سیالیو او جګړو کیسه ده، چې ډیرو نړیوالو مشهورو لیکوالانو او د سیمې شنونکو لیکنې هم پرې لیکلې دي. د منځنۍ اسیا د کنټرول لویه لوبه په منځنۍ اسیا کې د بریتانیا او روسیې ترمنځ د تاریخي اوږدې شخړې نوم دی. لویه لوبه د شلمې پیړۍ په نیمایي کې د ,, سړې جګړې,, سره پرتله کیدلې شي. څه باندې نیمه پیړۍ د ځمکې پر مخ د دوو سترو زبرځواکو ملتونو د ویکتوریا بریتانیا او تزاري روسیې ترمنځ یوه پټه او ښکاره جګړه د منځنۍ اسیا پر پراخو دښتو، ځمکو او خړو ډاګونو باندې روانه وه.
دا لویه لوبه په 1813 کال کې هغمهال پیل شوه، کله چې له روسیې څخه د ناپلیون لښکرې ووتلې او تر 1907 کال د سینټ پیټرزبورګ تر تړون پورې دوام وکړ. د سینټ پیټرزبورګ تړون کې دواړو استعماري ځواکونو د نویو سرحدي کرښو په اړه یوه موافقه وکړه. فارس په یوه برتانوي، یوه روسیې او یوه بې طرفه سیمه کې ویشل شو، سربیره پردې روسیې دا خبره هم په رسمیت وپېژندله، چې افغانستان د برتانوي امپراتوري د نفوذ سیمې یوه برخه وي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په 1815 کال کې د ناپېلون له ماتې ورسته د ویانا په کانګرېس کې د اروپا بیا منظمیدلو او تنظیمدلو ورسته نړۍ ټولو ځواکمنو اروپایي هیوادونو د اروپا څخه بهر په افریقا، اسیا او لاتین امریکا کې خپلې کولونیالیستي او استعماري پالیسي پیل کړې. کله چې لویه لوبه پیل شوه، د دواړو سیالو امپراتورېو ترمنځ 2000 میله واټن شتون درلود، چې بیا ورسته د روسیې امپراتوري ځینې پوځي پوستې د برتانوي هند په شلو میلونو کې پرتې وې. د دواړو امپراتوریو ترمنځ هېڅکله جګړه نه ده شوې، د دواړو امپراتوریو لښکرې هېڅکله یو بل ته مخامخ په جګړه کې نه دي ودرېدلې او د دوی د یوه سرتېرې وینه هم په کې نه ده تویه شوې.
د لویې لوبې اصطلاح د لومړی ځل لپاره په 1840 کې د افغانستان په ټراو د برتانېې د استخباراتو یوه بد قسمته کپتان ارتور کولوني لخوا په یوه لیک کې جګړن هنري رالېنس ته وکارول شوه. ارتور کولوني د ختیځ هند کمپنۍ یو سیاسي مامور او اجنټ و. نوموړي په ورستي ځل په کندهار کې د پولیټکل ایجېنټ په دنده هم ګمارل شوي و.
کولوني خپل جګړن هنري رالېنس ته لیکي: تاسو یوه لویه لوبه لرئ، تاسو په یوه عالي لوبه کې ښکېل یاست. د کپتان ارتور کولوني ورسته یوه بل لیکوال په نامه د توربورن روسیه هم د اسیا یا د اسیایي ولسونو په متمدن کولو کې د بریتانا ملګري او شریکه بللې ده. دغه اصطلاح په اسیایي ادبیاتو کې ډېره لږ کاریدلې ده. د کپتان کولوني لخوا د ,,لویې لوبې,, استعاره د لوبې یا د سیالي په مانا کارول شوې. هغمهال په اسیا کې روسان د انګریزانو د یو بل بالقوه دښمنان ول.
د لویې لوبې اصطلاح کارول د یو بل برتانوي ناول لیکونکي، وتلي شاعر او د انګرېزي امپاېر خبرېال روډ یارد کپلینګ لخوا شوې. په 1907 کال کیپلینک د ,,کیم,, په نامه د برتانوي کولونیالیزم او استعمار په اړه یو تاریخي سیاسي ناول لیکلي دی. نوموړی په همدې کال کې د ادبیاتو نوبل جایزه هم ګټلې ده او په برتانوي هند کې د افغانستان او منځنۍ اسیا په ټراو ډېرې لیکنې لیکلې دي. د کیم په نامه ناول منځپانګه د روسیې او انګلستان ترمنځ د سیاسي، استخباراتي او ډیپلوماتیکي شخړې په شالید باندې تمرکز لري. همدې ناول ,, د لویې لوبې,, اصطلاح په نړیوالو سیاسي ادبیاتو او بحثونو کې خورا مشهوره کړې ده او د نړیوالو زبرځواکونو د سیالیو او سیاسي دسیسو موضوع په کې راپورته شوې ده. د کیم په نامه ناول یا د لویې لوبې ناول لیکوال روډ یارد کپلینګ د برتانوي کولونیالیزم او امپریالیزم په چوپړ کې یو پېژندل شوي لیکوال او شاعر و. نوموړي په خپلو لیکنو کې دغه جمله بیا بیا کارولې ده، چې وسمهال په سیاسي بحثونو او د سیاسي لیکنو په مفهوم کې یو ستاېل ترینه جوړ شوې دی. روډ یارد کپلینګ لیکي: زه به اوس ډېر لرې او لرې د شمال په لور لاړ شم او یوه لویه لوبه به ترسره کړم. د ,,کیم ,, په نامه ناول پر منځپانګه باندې د ډېرو لویدیځوالو لیکوالانو لخوا انتقادي نقدونه، نیوکې او بحثونه هم لیکلي شوي دي. دوی دا پوښتنه هم را پورته کړې، چې روډ یارد کپلینګ یو رسیست یا توکمپال امپریالیست برتانوی لیکوال و. هغه یو بې پرې لیکوال نه و. ځکه نوموړي په خپل ناول کې ډېر رسیستي او امپریالیستي لیکنې خپرې کړې دي. د تور او سپین سړی ترمنځ توپیرونه د توکمپالنې په انګېزو کې لیکلي دي.



افغانستان نه یوازې د دوو نړیوالو زبرځواکو امپراتوریو ترمنځ د لوبې ډګر و، بلکې د انګرېزي او روسي مخورو سیاسي لیکوالانو ترمنځ د لیکوالي د لوبې ډګر هم ګرځیدلي و. نړۍ دوسوه کاله مخکې په روسیه کې روسیې وتلي لیکوال فیودور میخلیوویچ دوستیوفسکی د افغانستان په اړه یوه مقاله په نامه ,, اسیا زمونږ لپاره څه مانا لري؟. لیکلي. له بلې خوا انګرېز لیکوال روډیار کپلینګ یوه مقاله په نامه دي ,, د سپین سړی بار ,, لیکلي ده. دا مقاله د سپین سړی د تمدني کولو ماموریت په اړه لیکي، څو افغانستان ته د لویدیځ تمدن وروړل شي، په دې توګه دغو لیکوالانو غوښتل، څو خپلو نړیوالو استعماري امپراتوري ته یوه پلمه په لاس کې وکړي او خپل ناروا اشغال ته مشروعیت ورکړي، چې ګویا، دوی د خپل پرمختللي لویدیځ کولتور له لپاري د اسیا بې کولتوره او بې تمدنه ولسونو په تمدوني کولو کې مرسته او همکاري کوي. خو په حقیقت کې دوی د بې وزلو ولسونو د زېښناک او معدني زېرمو د کنټرول، چور او تالان لپاره راغلي وو. د برتانیا امپراتوري او ځینو اروپایي لیکوالانو په خپلو لیکنو کې اسیایي ولسونه سست عنصره، احمق، نا متمدن، ناپوهه، ماشوم فکره انځور کړي دي، له دې امله دوی د اروپایانو مرستو او متمدن کولو ته اړتیا لري.
د همدې لویې لوبې له امله له دوو سو کلونو راهیسې په افغانستان کې د وینو ډک سره لښتې بهیدلي دي او د غلیمانو لخوا یو په بل پسې سره اورونه بل شوي، څو دغه لویه لوبه ګرمه وساتل شي. د نړۍ سترو ښکېلاکګر زبرځواکونه د افغانستان اشغال په موخه د خپلو پوځیانو سره راغلي دي. د یرغلګرو لښکرې د هند شتمنیو د لوټولو په لاره کې او د مرکزي اسیا د سوداګریزو لارو کنټرولو لپاره افغانستان تر پښو لاندې کړي دی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د ښکېلاک په چوپړ کې لیکوال تل د خپل نړیوال استعماري سیستمونو ستاینه او دفاع کړي. دا یوه طبیعي خبره ده، دا د نیواکګرو لیکوالو یو امتیاز دی، چې دوی د خپلو استعماري کرغړنو تیروتنو او له شرمه ډوکو اعمالو ستاینه کوي.
په دې لیکنه کې د روسي او انګریزي لیکوالانو لیکنې نه تحلیل کیږي، بلکې د یو جرمن وتلي فیلسوف شاعر تصنیفي شعر د برتانوي نړیوالي امپراتورۍ د شرمونکي ماتې په اړه تجزیه او تحلیل کیږي. مخکې له دې چې شعر وژباړل او ولوستل شي، باید د پېښې په اړه لږ مالومات ورکړندې شي. د افغانستان د خپلواکۍ په جګړو کې د افغان - انګلیس درېواړه خونړۍ جګړې د پاموړ دي.
د جرمن لیکوال تیودور فونټنې په تصنیفي شعر کې د لویې لوبې د یوه تاریخي خونړۍ انجام داستان کیسه بیان شوي ده. د 1842 کال د جنورۍ په میاشت کې د افغان - انګلیس لومړۍ جګړه یا د افغانستان د غمیزې لوبه د شعر په ژبه کې بیان شوي ده. دغه تصنیفي شعر تر اوسه افغانانو سم نه دی پېژندلي، خو د افغانستان ورستیو پېښو له امله لا هم په نړیوالو بحثونو کې یو مطرح شعر دی. له همدې امله ښایي ډیرو افغانانو ته خورا په زړه پورې وي او شعر لږ په ژوره توګه تحلیل کیږي، څو دغه تصنیفي شعر په معاصرو سیاسي انځورونو او خونړیو پېښو کې روښانه شي او د شعر متن او مطلب بیا راژوندی شي.
جرمن لیکوال تیودور فونټنې د انګرېزي تاریخ او کولونیالیستي سیاست په اړه پلټنې کولې، هغه د برتانوی هند له موضوعاتو سره ډیره لیوالتیا درلوده. نوموړي له دې امله په ناڅاپي توګه د افغانستان له غمیزې سره مخامخ شوي دی. هغمهال تیودور فونټنې د نړیوال سیاست د زلزلو مرکز د افغانستان په اړه د برتانوي امپراتورۍ د مکارو استعماري سیاستونو په اړه یوه ادبي سیاسي شاعري په نوی بڼه یا ستایل کې لیکلې، چې انګریزان هېڅکله په خپل ټول ستر عظمت او تاریخ کې داسې نه وهل شوي، نه ټکول شوي او نه هم سپک شوي دي. په لومړي ځل په خپله انګرېزانو ته دغه لوبه لوبه په یوه ستره غمیزه واوښته. په بریتانیا کې د افغانستان دغه خونړۍ تراژیدي تر نن ورځې پورې شتون لري. دغه متل هم د همدغو ورځو څخه راځي: خدای دې مورِ د افغانانو له غچ یا بدل څخه وساتئ.
د افغانستان په اړه تیودور فونټنې تصنیفي شعر د برتانوي ظلم او استعماري سیاستونو باندې شدیدې نیوکې شوي دي. د شعر څخه داسې جوتیږي، تیودور فونټنې د اروپایي استعمارګرو ملګري نه و. نوموړي د افغانستان خپلواکۍ او د افغان غازیانو د ازادي غوښتونکو پلوي او لومړنۍ اروپایي مبارز و. په زړه پورې خبره دا ده، چې تیودور فونټنې د انګریز قوماندان سر رابرټ نوم په خپل شعر کې یادوي. هغه ته په شعر کې یو ځانګړي حیثیت وربښي. د جلال اباد ساتونکی قوماندان سیل رابرټ په اړه ویل کیږي، سیل یو زبردست انګرېز سرتیری و، چې د هغه لپاره خلک په اور ورننوتل او برعکس هغه هم داسې کول. انګریزانو هغه د Fighting Bob " یا جنګي باب په نامه یادولو. سیل رابرټ په پوځي لحاظ په افغانستان کې تر ټولو لوړ او وړ برتانوي افسر و. سیل رابرټ د وزیر محمد اکبر خان په مخالفت کې ولاړ و، خو وزیر محمد اکبر خان میدان ترینه وګټلو. وزیر اکبر خان انګریزان له افغانستانه، کابل، کندهار، غزني او جلال اباد څخه وشړل.
په 1846 -1816 وزیر اکبر خان د لوړ قد، د ښه سلوک او ښه اخلاقو خاوند ځوان افغان و. د افغانستان په محاصر تاریخ کې د یوې ځلاندې ویاړلي او اتلې څېرې په نامه ثبت دی.
د افغانستان غمیزې لویه لوبه یا د برتانویانو او روسانو ترمنځ په دغه جیوپولتیکي لویه لوبه کې اسیایي هیوادونه، ولسونه، پاچاهان، امیران او سپمه ییز حاکمان لکه د شطرنج دانو یا مهرو په څیر هاخوا او دېخوا تیلوهلي شوي، غورځولي شوي او کارول شوي دي.
تیودور فونټنې په خپل شعر کې د هغو برتانویانو سره چې په جلال اباد کې د خپلو خپلوانو، عزیزانو او ملګرو په تمه په انتظار کې ناستول، خواخوږي هم ښیي، هغوي چې د خپل شوک، بیچاره ګي او ناتوانایي له امله د ترمپ په غږولو او غمجني سندرو ویلو سره خپل ژورغم او ځګروی څرګندوي. تیودور فونټنې په خپل شعر کې دا ویل غواړي: چې راځئ د هغو برتانویانو د غمونو او انګیزو چېغې، ناري سوري کومې چې د هندوکښ په غرونو او درو کې خپرې شوي دي، وارو.
د تیودور فونټنې شعر په قلمي یا لاسی لیکل شویو نسخو کې د وزیر اکبرخان نوم یادونه هم شوي ده. هلته لیکلي شوي دي، چې وزیر اکبرخان پر مورِ برید وکړ. تر اوسه د دې پته نشته، چې ولې د وزیر اکبر خان نوم له مصره سره یو ځای د اوسني شعر څخه ایستلي شوي دی. دا پوښتنه رامنځ ته کیږي، چې ولې.؟
تیودور فونټنې په خپله دغه کرښه په شعر که نه ده حذف کړي. په دغه شعر کې د ډېر سخت سړه او د یو مرګونې احساس یادونه کیږي. د انګریزانو یوازیتوب او د کور څخه لیرې په بل هیواد کې پریښودل، په هغه هیواد کې چې ګرم هند ته نږدې په ګاونډ کې پروت دی. تیودور فونټنې د انګرېزانو دغه بد او نازکه حالت په ډېر ادبي ظرافت،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نازک خیاله شعري انځور او احساس کي لیکلي. لکه هغه په خپله هلته د پیښي په ځای کي موجود و. د غم او خپګان احساس، د دوی لپاره دوامداره ګوابښ، پر جلال اباد بنار باندې د افغان غازیانو طوفاني برید انتظار هم کیدلو. چېرې چې قوماندان رابرټ سیل د یوې مودې لپاره د دې بنار د ساتلو توان درلود.
برتانویانو غوښتل، څو په اسیا کي د روسان پرمختګ وردول شي. په 1839 کال کي انګرېزانو د خپلو سور رنګه لنډو لمنو سره د افغانستان له جنوبي سېمو څخه خپل یرغل پیل کړ. د غزني بنار له ورانولو ورسته په کابل کي ځانونه ټینګ کړل. په 1839-1842 کلونو کي د افغان- انګلیس د دریو جګړو څخه لومړني جګړه وه. دا همهال لویه لوبه بنه په ډرځ کي روانه وه. په هر صورت د 1841 کال په مني کي افغانانو پر انګریزانو سخت فشار راوړ او په کابل کي د برتانیې سفارت په اور کي وسوځید، سفیر مکناټین او د هغه غوره استازی د افغانستان کارپوه الکساندر پرنس او نور برتانوي ملګرو یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. افغانانو برید پیل کړ، انګریزانو ته یوازې د بیرته شاتګ لاره پاتې وه. د 1842 کال د جنوري په شپږمه نېټه د سهار په لسو بجو د انګریزانو ټول ګارنیزیون په بیره د کابل ختیځ څخه د جلال اباد پر لور روان شو.
د جنورۍ په شپږمه نېټه د سهار په لسو بجو د 12000 او 16500 په شاخوا کي پوځي او ملکي وګړي، د 690 ډیر برتانویان افسران او 4500 هندي پوځیان له کابله د میجر پوټینجر تر قوماندې لاندې ووتل، ځکه د افغانانو د پاڅون له پیلدو ورسته دغه بنار نوره نه ساتل کیدو او نه کنټرول کیدو. د ژمي واوره یو فوټ جګه پرته وه، د تودوخي درجه منفي صفر درجې څخه لا نوره ټیټه وه. د دوی پوځیانو، بنځو او ماشومانو په پښو، په اسونو خرو، کچرو، غواګانو او په ګاډو کي په سارې هوا او سخته وارو کي خپل مزل له لوړې سره پیل کړ. د دې سربیره افغانانو دوی تعقیبول او هم بنکار کول. د دوی لومړني منځنی منزل د جلال اباد بنار و، چې د کابل څخه اټکل 140 کیلومتره په لېرې واټن کي پروت و. که څه هم برتانوي مشرتابه د خوندي تګ په اړه خبرې اترې کړې وې، خو افغان قبایلي جنګیالیو د بیرته تګ دې ډول هوکړې ته غاړه نه اینسودله. په داسي حال کي د کابل په دره کي لومړني انګریزان د جلال اباد په لاره کي د سر رابرټ سیل میرمن لیډي سیل په ګډون د افغانانو له خوا نیول شول.
د خورد کابل په تنګي سیمه کي افغانانو بیا د وزیر اکبر خان په مشرۍ کي برید وکړ. د خورد کابل تنګي او کندې څخه د تېښتې هیڅ بله لاره نه وه. چا چې جلال اباد ته تګ غوښتلو، هغوي هېڅکله خپلې موخې ته ونه رسیدل. د انګرېزانو ټول ګارنیزیون له منځه یوړل شو. که څوک بیا هم له دې کندې څخه تېښتیدلي وي، هغوي په بې رحمانه توګه تر تعقیب لاندې ونیول شول. له دې ټولو وژلو څخه یوازې یو ټپي انګریز ژوندې پاتې شو، هغه میجر ډاکټر ویلیم برایډن یو څوان برتانوي ډاکټر و. یوازې هغه ځان په اس سپور جلال اباد ته ورساوه، یوازې یو له افغانستانه خپل کور ته راستون شو.
ډاکټر برایډن چې په 1811 کال کي زیږیدلي او په 1883 ومړ. ډاکټر برایډن په 1842 کال د جنورۍ په 13 مه نېټه د انګریزانو بشپړې ویجاړونکي ماتې غمجن خبر جلال اباد ته راوړ. دا د نړیوال زیرځواک د برتانیا په استعماري تاریخ کي لومړنې ستره ماتې ثبته شوې ده. د دغې ناورین خبر په سرعت سره ډهلي او کلکتې ته چېرته چې د انګریزانو د ختیځ هند کمپنۍ مرکزي دفتر و ورسید. همدارنګه لکه د یو بم په څیر ټول لنډن یې ولړزاولو. د دغې سترې غمیزې خبر د اور لمبې په څیر د نړۍ په ټولو رسنیو کي خپور شو. دغه لویه لوبه د لومړۍ ځل لپاره د برتانویانو لپاره د غمیزو په لویه لوبه بدله شوله. دا د انګرېزي پرېکړه کونکو مشرانو بې کفایتي، غلطې پرېکړې، ناپوهي، د دوی پوځي، سیاسي، ډیپلوماتیک استعماري غرو او تکبر وو چې بالاخره د دې ستر غمیزې او ماتې لامل وګرځیدل. د انګرېزانو بارورنکي اورګاډو باندې کوم چې په وړو وړو ګروپونو او ډلو کي ویشلي شوي جلال اباد ته روان ول، د بیرته تګ په پیل کي پرې برید وشو. انګرېزانو څو ځله د افغان جنګیالیو له مشر وزیر اکبر خان سره خبرې اترې وکړې، څو د کاروان ځینې یرغمل شوي مخور کسان ورخوشي کړي. د جنوري په اتمه نېټه د انګرېزانو پر موټرو کاروان باندې چې سخته واړې وریدو او د تودوخي درجه د منفي صفر درجې لاندې وه، په یوه تنګه لار کي برید وشو. شاوخوا 3000 نارینه، بنځې او ماشومان مړه شول، دوه ورځې ورسته له دوی څخه 2300 کسان ژوندي پاتې شول. د جنورۍ دیارلسمه په سهار ژوندي پاتې شوی کسان د ګدمک په سیمه کي په جګړه کي مړه یا ژوندي ونیول شول. یوازې یو اروپایي پوځي ځوان ډاکټر ویلیم برایډن جلال اباد ته ژوندي ورسید، څو په لومړي ځل په یوه کولونیالستي استعماري جګړه کي د ستري بریتانیا د لومړني ماتې خبر دهلي او لنډن ته ورسوي.
دا مهال جرمن فلسفي شاعر تیودور فونټني د انګلستان او سکاټلینډ په سفر تللي و. نوموړي له 1855 څخه تر 1859 کلونو پورې په لنډن کي پاتې شوي و. تیودور فونټني د جرمني پرویشا مطبوعاتو د مرکزي دفتر لپاره په بهر کي د خبریال په توګه کار کولو او بریتانیا کي د تیودور فونټني دندې موخه دا وه، څو د جرمني پرویشا په ګټه پر برتانوي مطبوعاتو باندې خپل اغېز وشیندي. که لږ واضع وویل شي، هغه لکه د نن ورځې د لابیسټ یا یو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اجنټ په ځير دنده تر سره کوله. خو هغه په دې موده کې ځان د برتانيې له تاريخ، کولتور او سياست سره ښه اشنا کړي و. که څه هم په افغانستان کې د انګرېزي امپراتورۍ ماتې څه باندې يوه نيمه پېړۍ مخکې پېښه شوې ده، خو د خپل ډير درناک کرکټر درلودلو له امله تر نن ورځې پورې لا هم د اروپايانو په فکرونو، سياسي افکارو او تاريخي شعور کې ژوندی پاتې يا شتون لري.
د يادونې وړ ده، چې بالډونه يا تصنيف سياسي شعرونه نه دي، بلکې د برخليکونو په اړه شعرونه دي. دا ډول شعرونه د افغانستان په غمېزې باندې هم تطبيق کيداى شي. په ادبي لحاظ دغه بيتونه د ليکوال او شاعر تر ټولو پياوړي ادبي شاعري بيتونه دي. د جرمن شاعر دغه تصنيفي شعر مورِ ته په يوه حساسه تاريخي نقطه کې د يوې سياسي انګېزې په توګه اشاره کوي يا سترګې وهي. خپله د شعر سر ليک د ټول انځور يوه کيسه بيانوي، د شعر سرليک د يوې شيبې لپاره يو مهم انتقادي دريځ نېسي. د افغان - انګليس دري واړه جګړې د لويې لوبې په نامه يادېږي. انګريزانو غوښتل او هڅه کوله، چې په سېمه کې خپل پوځي تسلط يا والکه ټينګه وساتي. هغه مهال د تيودور فونټنې له نظره دا لوبه خورا لنډه ښکارېده، نومورۍ هغه مهال پوهيده، چې له دې لويې لوبې څخه هيڅ شي نه ترلاسه کيږي، چې بالاخره دغه لوبه افغانانو ته په يوه ستره غمېزه بدله شوه. افغانستان د مودِرن کيدلو څخه مخکې د عصري کيدلو جامې اغوستې وې.
په 1979-1989 کالونو کې په افغانستان کې د شوروي اتحاد سور يرغلګر پوځ او د سور پوځ سرتيرو حالت د انګرېزانو په پرتله هيڅ توپير نه درلود. د شورويانو يو سرتيرى هم له افغانستانه خپل کور ته په پښو ورستون شو. په 1989 کال کې د فبروري په 15 مه نېټه د شوروي اتحاد ورستۍ جنرال بوريس کروموف هغه افسر و، چې د ترمېز او حيرتان ښار ته نږدې د افغانستان او شوروي اتحاد پر پوله د امو سيند پر پله واوښت.
په 2021 کال د اګست مياشتې په 30 مه نېټه د نيمې شپې څخه يوه دقيقه د مخې امريکايي تورنجنرال کريس ډوناهو له افغانستان څخه د بشپړې پوځي ماتې ورسته د ميجر ډاکټر برېدن او جنرال بوريس کروموف په پل ووت. په اسيا کې د لويې_لوبې په تسلسل کې په افغانستان کې د نړيوال ښکېلاک د انګرېزي زمري غاښونه مات شول، دلته د روسي امپراتوري د خوک نوکان ويستل شول، دلته د امريکايي يرغلګرو عقاب سترګې ويستلې شوې، د نړيوالو امپراتوريو هدېرې څخه ايراني پېښو سخته بېرېدلې ده او ان شاءالله د لويې لوبې په پاې کې به افغانانو ډير زر پاکستانی شغال ته هم يو ورته تاريخي سبق ورکړل شي.

د تيودور فونټنې د شعر ارزونه تجزيه او تحليل:

ديارلس زره کسيزه کاروان روان شو، يو له افغانستانه بيرته خپل کور ته راستون شو.,,
,, د افغانستان د غمېزې لوبه,, د دې شعر ليکوال جرمن فلسفي شاعر تيودور فونټنې دى. فونټنې په 1819 کې د جرمني نيوروپين په ښار کې زيږېدلې. تيودور فونټنې په 1864 کال کې د جرمني او ډنمارک په جګړه کې، په 1866 کال کې د اتريش او جرمني پروشيا په جګړه کې او په 1870 کال د فرانسې او جرمني پروشيا جګړه کې د پوځي خبرېال په توګه دنده ترسره کړې ده. نومورې په 1858 کال کې د افغانستان د غمېزې لوبې شعر ليکلې دى. هغمهال دغه شعر د شټوګارټ او برلين ښارونو په رسنيو کې هم خپور شوې دى. تيودور فونټنې په خپل شعر کې د هغې وخت افغانستان حال بيانوي. له هغه وخته تر اوسه څه باندې 165 کاله تېر شوي دي. د وسمهال وضعيت ته په کتو سره د شعر په لوستلو کې د سړى وينه په جوش راځي. دغه تصنيف يا څلوريزه د برتانوي قوماندان سر رابرټ سيل په اړه ليکل شوي. په 1842 کال د جنورې په مياشت کې چې کله په مرګ ستړي ستومانه شوي، سارِه او د وارو طوفانونو په نښه کړي، پر اس سپور برتانوي ميجر ډاکټر برايډن جلال اباد ښار ته راورسيد، خپله پښه له خپل اس رااړوي، هغه له ويرونکي خبرونو سره ستړي ستومانه شوي راغلي و. نومورې برتانوى اس سپورى ډاکټر د يو خبر رسوونکى په توګه يو ډير بد خبر له ځانه سره راوړي و. دغه اس سپورى ميجر ډاکټر برېدن و، نومورې بايد خپل راپور د جلال اباد ښار برتانوى قوماندان سر رابرټ سيل ته ورانديږ کړي.
په 1859 کال کې جرمن شاعر تيودور فونټنې دغه بد خبر په خپل شعر کې ترسيم کړي دى. سر رابرټ سيل ته نومورې ډاکټر د ديارلسو زرو سړيو، سرتيرو، د پوځي مشرانو، مېرمنو او ماشومانو د تېښتي خبر ورکوي، کوم چې له کابل څخه په يوه لوى کاروان کې راروان شوي وو، خو هيڅ يو يې ژوندى پاتې نه شو. يوه ستره مرګ ژوبله رامنځته شوي وه، کله چې ډاکټر برايډن قوماندان ته د پېښې په اړه خبرې کولې، د سړى پوستکى اوښتان نېغ په نېغه دريدل. د برېد په ترڅ کې د برتانوي پوځيانو خواږيدو سره، دوى له دې قوماندان څخه د مرستې غوښتنه وکړه، تر څو هغه کسان وژغوري، کوم چې په دغه شپه کې سرګردانه، لالهانده ګرځېدل او بهر پاتې شوي وو. انګرېز قوماندان څه کوي، هغه په يوه غونډې کې د يوې کلا لوړې ځوکې ته خيږي او په زړه پورې مهم ټکي بيانوي: سخته واوره په تېزې سره وريده، هغه څوک چې زمور په لټه کې دي، دوى نه شي کولې مورِ وموميِ.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

برتانويان د اکبر خان لښکرو ته تسليم شول. د اکبر خان نوم دلته په دغه تصنيفي شعر کي نه دی ياد شوي. د دې سترې تاريخي ماتي په اړه د برتانويانو ليد لوري خورا مهم دی. په ځای د دې چې د جلال اباد ښار برتانوی قوماندان سر رابرټ خپلو سرتېرو ته مرسته ورولېږي. هغه خپلو بند پاتې برتانوي سرتېرو ته په انګليسي او افغاني موسيقۍ په سپک کي د ټرمپېټ الې له لياري د خپل وطن ,,لويي بريتانيا,, يو ورستي هوايي سلام ورلېږي. دغې هوايي سلام هغو بدبختو برتانيانو ته چې په جګړه کي ايسارول هيڅ ګټه نه کوله. دا يو خندني طنز و، خو په ريښتيني مانا سره دا د برتانيانو لپاره يوه بشپړه شرمونکي ماتي و، يوه بشپړه بشري ناورينې ناکامي وه، چې دلته د جرمن فيلسوف شاعر تيودور فونټېني لخوا دغه ماتي په شعر کي تشريح او ترسيم شوي ده.
دا يو واقعيت دي، چې څه شي 165 کاله مخکې پېښ شوي دي، د هغې په تحليل کې پرون د روسانو نن بيا د امريکا او انګرېزانو سره په ډيره ويره ونکي ډول ورته شبيې حالات د يرغلګرو سره پېښ شول. د يرغلګرو په وړاندې د افغانانو دغه کرکټر او حالات دا پوښتنه راپورته کوي، چې له هغه وخته راهيسې تر اوسه پورې هيڅ څه په بشپړ ډول بدل شوي نه دي.
د ليکلو وخت ته په کتو سره يا د ليکوال د ژوند ليک د مالوماتو په بنسټ دغه تصنيفي شعر د ريالېزم دورې پورې اړه لري. ليکوال فونټېني د ريالېزم دورې يو ځانګړی وتلي استازی و. دغه شعر په ځلوېښتو کرښو يا مصرو کې ليکلي شوي دی او دلته لاندې په ازاد ډول ژباړل شوي دی. جرمن فيلسوف شاعر تيودور فونټېني په شاعرانه ډول يا طرز کې د خپل وخت واقعيتونه د خپل معمول عادت له مخې د افغانانو او برتانويانو ترمنځ جګړې کې په واټن او په ډير احتياط سره بيانوي. تيودور فونټېني غواړي او هڅه کوي، چې په دغه چټله لوبه کې ځان بې پرې وښايي. خو په دې کې هيڅ شک او شوپيان نشته، چې دغه تصنيفي شعر په ښکاره ډول د نړيوال ښکېلاک مشرانو په ضد ليکلي شوي دی. تيودور فونټېني د خپل شعر په ورستي برخه کې ليکي، يو له افغانستانه بيرته خپل کور ته راستون شو. دلته مطلب روښانه دی، چې کور ته د بيرته راستنيدلو څخه مطلب د لويې بريتانيا قلمرو يا خاروې ته اشاره کوي.
څه پېښ شول: په 1839 کال کې د برتانوي امپراتورۍ پوځيانو د افغانستان د خاورې ستره برخه لاندې کړه، چې په تاريخ کې د افغان - انګليس لومړی جګړه بلل کيږي. انګريزانو د خپلې امپراتورۍ د پراختيا لپاره جګړه کوله، څو په منځنۍ اسيا کې د روسېې امپراتورۍ د پراختيا هڅو مخه ونيسي. روسانو غوښتل، چې د هند په سمندر کې يو سوداګريزه تود بازار او بندر د خان لپاره خوندي کړي او پرانيزي. دې موخې ته د رسيدو لپاره د افغانستان له لارې يوې لارې ته اړتيا درلودله. له همدې امله په اسيا کې د ګلونو کلونو راهيسې د روسانو او انګريزانو ترمنځ ستراتيجکي سيالۍ او جګړې ,, د لويې لوبې,, په نامه بلل کيږي.
د افغانستان جغرافيايي وضعيت تل له جيوپوليټيکل پلوه د نړۍ زبرځواکونو ته په زړه پورې دی. په 1839 کال کې کله چې انګريزانو افغانستان اشغال کړ، د بريتيش هنديا پوځونو او د افغانانو ترمنځ سختې خونړۍ جګړې ترسره شوې دي. انګرېزان هېڅکله خپلې موخې ته ونه رسيدل. انګرېزانو له افغان قبايلي مشرانو سره د خوندي بيرته تګ په اړه خبرې اترې وکړې. په 1842 کال کې د جنورې په شپږمه نېټه له کابل څخه په بشپړه توګه وتل. په زرګونه خلک د بشپړ ناڅرګند راتلونکی او مبهم برخليک له وېرې وتښتېدل. د خوندي تګ چلند ټرون مات شو او د خيبر په دره کې پر انګرېزانو باندې بيا سخت بريد وشو، ټول په کې ووژل شول. يوازې يو برتانوي پوځي ډاکټر ويليم برايډن ژوندی پاتې شو، چې بيا داکټر برايډن د دغې سختې ماتې او ناورين خبر خپور کړ، کوم چې جرمن شاعر تيودور فونټېني په خپل شعر کې بيانوي. دا پوښتنه راپورته کيږي، چې څنګه جرمن فلسفي شاعر تيودور فونټېني د دې خونړۍ ناورين راپور په اړه يو شعر ليکي.
نومورۍ له 1855-1859 کلونو څخه په لندن کې اوسيدو او د جرمن پروشيا دولت لپاره بهرنۍ خبريال و. په لندن کې د لويې بريتانيا خونړې ناورين او ماتې په ښکاره توګه د پامور محسوسه کيده او دغه ستره تاريخي ماتي تر نن ورځې پورې په بريتانيا کې شتون لري او محسوسه کيږي. جرمن شاعر او خبريال تيودور فونټېني دغه ټول ناورينې حالت، ستره ماتې او خونړۍ جګړه په يوه تصنيفي شعر کې په يوه لنډه ژوره ارزونه کې محدودوي، د شعر مانا د شعر په سرليک کې موندل کيداى شي،, د افغانستان د غمېزې لوبه ,, نومورۍ لويې لوبې ته اشاره کوي، چې اسيا کې لويې لوبې افغانانو ته يوه ستره خونړۍ تراژيدي جوړه کړې. جرمن شاعر او خبريال تيودور فونټېني دغه سرليک د يوه بل جرمن د ختيځپوه او د چيني ژبې او کولتور څېړنوال ښاغلی کارل فريدريش نويمان څخه چې په 1793 کال کې د دسمبر په 28 مه نېټه زېږيدلې دی، اخيستلې دی. نومورې جرمن ختيځپوه په خپل غوره څېړنيزه تحليلي ليکنه کې د افغانستان د غمېزې سرليک تر نامه لاندې څېړنه او ليکنه کړې، دغه تحليلي ليکنه په 1848 کال کې د جرمني ليپزيک ښار کې په رسنيو کې هم خپره شوې ده. په افغانستان کې د برتانويانو

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

لاسوهني په اړه د نيومن تحليلي څېړنيزه شهکاريو له غوره شويو تحليلونو څخه دی. نومورې د مونشن په پوهنتون کې د ارمني، چينايي ژبو او همدارنګه د سېمه ييزو مطالعاتو مرکز مشر او د توکمپوهنې پروفيسور و.
د افغانستان د غميزې لوبې جګړه دغه سرليک تر اوسه همداسي ساتل شوي دی. د لويې لوبې لوبغاړي بدليږي، خو د هندوکښ د غرونو په لمنو کې دغه غمېزه بې پايه ښکاري. د افغان - انګليس له لومړۍ جګړې ورسته دوې نورې جګړې هم ترسره شوي دي، ځکه انګرېزانو نه غوښتل خپله د شرمه ډکه ماتې ومني.
په 1919 کال کې بلاخره افغانستان له انګرېزانو څخه شېړ کاله ورسته خپله بشپړه ملي خپلواکی ترلاسه کړه، خو له هغه وخت راهيسې د ښلا ښلو نويو نويو لوبو، نړيوالو او سېمه ييزو ځواکونو د ګټو مرکز ګرځيدلي دی او هېڅکله يې خپله داخلي تلپاتې ثبات نه دی تر لاسه کړي. که تاريخ سم ولوستل شي، د انګريزي، روسيې او امريکايي يرغلګرو لښکرو ماتې بلکول يو بل ته ورته دي. نن ورځ به جرمن شاعر تيوډور فونټېني خپل شعر او جرمن د ختيځپوه، د چيني ژبې او کولتور څېړنوال کارل فريدريش نويمان څنګه خپله څېړنېزه ليکنه وليکي.؟
يوه خبره ښکاره ده، چې تر اوسه په افغانستان کې د ډيموکراسۍ او مدرنيزم ټولې هڅې ناکامه شوي دي. د بشري حقونو وضعيت په ناوريني حالت کې دی. داسي په ښکاره ښکاري چې ټولې ښکېلې خواوې د تاريخ څخه زده کړه نه کوي. د تيوډور فونټېني د شعر په يوه بيت کې راغلي، دوی د ړندو خلکو په څېر ګمراه دي او دوی مور ته دومره نږدي شوی دي. په تصنيف کې دغه بيت د خلکو تېښتې ته اشاره کوي. خو د نن ورځې له نظره دغه جمله يا بيت يوه خوله لګونکي او دردونکي ژوره مانا لري. هغه دا چې نور څه بايد پېښ شي، تر څو دغه ړانده خلک په رنو سترګو د افغانانو دغه غمجن حال ووينې. څه بايد پېښ شي، مخکې له دې چې نړۍ يا نړيوال پوهه شي، چې دا نړۍ خورا پېچلې ده، کله چې تاسو له يوه ليد لوري ورته ګورئ.

<u>د افغانستان د غمېزې لوبه</u>

د وارو ګړۍ په نرمۍ له اسمانه وريده،
يو اس سپور جلال اباد مخې ته ودريده،
,,هغه څوک دی !,, ـ ,, يو انګرېز اس سپوری دی،
له افغانستانه يې يو پيغام راوړي دی.,,

افغانستان! هغه په سترېا او ستومانتيا کې په ورو خبرې وکړې؛
پر اس سپوری باندې د ښار نيمايي برخې (خلکو) راټوليدنې فشار راوړي و،
سپر رابرټ سيل، د هغه قوماندان و،
هغه د خپل اسه خپل لاس پورته کړو.

دوی هغه د ډبرو جوړه شوي ترصدي کوټې ته بوتللو،
دوی هغه د ديوالي بخاري مخې ته کيناوه.
څنګه هغه اور کرمولو، همدارنګه هغه رڼا راتازه کولو،
هغه ژوره ساه ايستله، منه يې کوله، او ويل يې:

,, مور ديارلس زره کسېزه لښکر د سرېو وو،
له کابله زمور مارش پيل شو،
سرتېرې، د پوځ مشران، مېرمنې او ماشومان،
مور سارې وهلي، سترې ستومانه شوي، خيانت شوې وو.

ټوټه ټوټه شوي و زمور ټول پوځ ،
هغه څه شي چې ژوند غواړي، په شپه کې بهر سرګردانه ګرځي،
ما ته يوه خدای ژغورنه راوښښله،
تاسي وګورئ چې تاسو کولې شي، د پاتې شويو نورو کسانو خوندي ژغورنه وکړئ,,

سپر رابرټ د همدې کلاء بام ته پورته شو،
ټولو افسرانو، سرتېرو هغه تعقيب کړ، ,,

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

واوره په شددت سره ځښته ډيره غټه غټه وريده.
سير رابرټ وويل: ,, واوره ډيره په شددت سره غټه غټه ورېږي،
هغه څوک چې مور لټوي، هغوي مور نشي موندلي.

دوی د ړندو په څېر لار ورکي شوي دي او مور ته هغو دومره نږدې شوي دي،
بيا نو پرېږدئ، دوی يې واري چې مور دلته يو،
د وطن او د کور يوه سندرې يې سره همغږۍ کړه،
ترومپيټ غږونکی په شپه کې پوکی ورکړي وه،

دوی پورته کړل او هېڅکله ستړی نه شول،
د شپې تر ناوخته يې يو په بل پسې سندې غږول کيدې،
لومړۍ انګليسي سندرې د خوږه غږ او آهنګ سره،
بيا د لوړو غرونو غرنيزه سندې د حکايتونو شکايتونو سندرې وې.

دوی ټوله شپه تر ګهيځه پورې پوکي ورکړ.
په لوړ غږ، لکه څنګه چې سړی يوازې مينې ته داسې غږ وکړل غواړي،
دوی دومره پوکی ورکړ، چې دويمه شپه هم پرې راغله.
بې ګټې ده، چې تاسو غږ ور ته کوئ، بې ګټې ده چې تاسو يې ساتنه کوئ.

هغه څوک چې واري، هغه يې نور نه اوري،
ټول پوځ تباه او برباد شوي دی،
د ديارلسو زرو په شاوخوا کې دغه کاروان پيل شوي و،
خو يو له افغانستانه بيرته کور ته راستون شو.

د تيودور فونټېنې حماسي شعر د جرمني نومونې سندرغاړي نينا هاګن په ښکلي غږ کې په يوه کنسرټ کې خپلو مينوالو ته داسې اوروله دی.
https://youtu.be/9we85KAnxOc

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ